

# یوم مئ

نګهت یاسمین درمنه

نن ماښام زما خاوند د معمول خلاف لږ وختي کور ته راغے، هغه اکثر ډېر ناوخته کور ته راځي، بلکې دا به ووایو چې هغه په نیمه شپه راځي. اول اول خو به ما د هغۀ ناوخته راتلو باندې خفګان کولو خو بیا زۀ هم عادت شوم او بچي مې هم وشو نو د هغوي د وجې مې ژوند مصروف شو، ګني نو د وادۀ اول اول ورځو کښې خو به ما د ډوډۍ په مېز د هغۀ په ګېنټو ګېنټو انتظار کولو او چې هغه به رابنکاره شو نو وبه یې خندل "واه نا پوهه ښځې په وخت خوره او په وخت اودۀ کېږه، زما انتظار مۀ کوه، زۀ چې څۀ کوم ستا او ستا د مستقبل دپاره یې کوم".

زما خاوند نن سبا په یوه محکمه کښې په ۲۰ ګرېډ کار کوي، مونږه په سرکاري بنګله کښې اوسېږو او د محکمې کم از کم درې ګاډي زمونږ په استعمال کښې دي، د محکمې نوکران چاکران ان تر دې چې پوره سټاف سره د افسرانو زمونږ د خدمت دپاره هر وخت او هر ځائے تیار ولاړ وي.

لکه څنګه چې ما ووئیل چې زما خاوند نن لږ د وخته کور ته راغے، ما ترېنه د وختي راتلو تپوس وکړو نو ځواب کښې یې راته ووئیل چې طبعیت مې لږ ناسازه دے، د خوب ګولۍ راکړه چې لږ ارام وکړم، خو خیال کوه چې سحر مې وختي پاڅوې.

ما په حېرانتیا ووئیل چې سباله خو چوټي ده، یوم مئ نۀ ده څۀ؟ چوټي خو د ماشومانو ده، زما سبا له په پي سي کښې د یوم مئ په حواله یو پروګرام کښې تقریر له تلل دي.

ما هېڅ ځواب ورنۀ کړو او ګولۍ مې ورته وړاندې کړه، لږ ساعت وروستو هغه په غرق خوب اودۀ شو، ما هم د ماشومانو سره روټۍ وخوړه او یوې خواته هغه سره پرېوتم، سحر د موبایل په غږ زۀ راپاڅېدم، چې باهر مې وکتل نو نمر د اسمان منځ

ته راغلې ؤ، مخامخ ګېټ سره نژدې ډرائيور د صېب (زما د خاوند) ګاډے وينځلو.

چوارې د کور صفايي شروع کړې وه او مالي کاکا چمن کښې ډکوله ابو ورکولې.

ما د کمرې پرده بيا راښکله او د کمرې نه باهر راووتم.

خانسامان زمونږ د پاڅېدو په انتظار کښې ناست ؤ، چې دوي راپاڅي چې ناشته تياره کړي،هغۀ چې زۀ وليدم نو کيچن ته روان شوم.

زۀ واپس کمرې ته راغلم، خاوند مې د خوبه رابېدار کړو، هغه چې تيار شو نو د چائے مېز له راغلو او په تادۍ تادۍ يې نوکر نه تپوس وکړو چې مزدوران راغلي دي او کۀ نۀ.

ما ورته د نوکر نه مخکښې ووئيل چې نن خو چوټي ده، يوم مۍ نۀ ده څۀ؟

هغه په خندا شو او وې وئيل يا ساده ښځې چوټي خو دفترو او د هغه خلقو ده چې تنخوا داره وي، مزدوران چې چوټي وکړي نو خوري به څۀ؟

اصل کښې د څو ورځو نه زمونږ د کور د اوبو ټينکۍ ليک شوې وه، نو د هغې دپاره محکمې دوه مزدوران رالېږلي وو، زما خاوند چې تلو نو سپارښتنه يې وکړه، چې د مزدورانو د چائے ډوډۍ غم مۀ کوئ، دا د هغوي خپل بندوبست دے، اصل کښې زما خاوند ډېر شوم دے او هغه بې ځايه خرچې نه ځان ساتي.

چې تقريباً غرمه غوندې شوه نو مالي کاکا په منډه منډه را دننه شو، بي بي ګلې هغه يو مزدور د ګوټي نه راپرېوتو ما په هېبت باهر وکتۀ او چې ومې کتل نو مزدور لاسونه پښې وهل.

هله کۀ، کاکاکنه.... ګاډے راوباسه چې هسپتال ته يې ورسوو.

بي بي.... ګاډي خو ټول وتي دي.

چرته کاکا..... درې ګاډو کښې يو هم نشته؟ يو مشر صېب بوتلے دے، بل کښې کشر صېب ملګروسره وتے دے او......درېيم ګاډي کښې شريفه ګل سپي له لرے (اجري) راوړي.

وې خدايه!...... دا هلک خوبه مړ شي، هلکه صېب ته فون وکړه.

کاکا په منډه منډه دننه لاړ.....

ټول نوکران چاکران راغونډ وو، چا ورله لاسونه او چا ورله پښې مږلې او چا ورته د اوبو څاڅکي په خولې ورکول، ولې هلک د بچ کېدو نۀ ؤ، هغه هسې هم ډېر کمزورے او زېړ ؤ او دې ګوزار سره خو نور هم زېړ پېړشوے ؤ.

کاکا واپس راغے او وې وئيل:

بي بي! صېب موبايل نۀ اوچتوي، ډرائيور ته مې په موبائيل ووئيل هغه وايي چې صېب خو په سټېج دے، تقرير کوي وزګار نۀ دے، چې وزګار شي نو خبر به يې کړم.

ما زر زر نوکر د ټېکسي دپاره ولېږلو، ولې د ټېکسي د راتلو نه وړاندې هغه ساه ورکړې وه او ما په زړۀ کښې تېره کړه، چې:

کاش! چې مونږ اورېدو اورېدو تقريرونو په ځائے د مزدورانو د خولو قدر وکړو.

کاش! چې مونږ يوم مۍ نۀ نمانځلے خو د مزدورانو حق مو په وخت ادا کولے.

کاش! چې مونږ هغوي هم د احساساتو او جذباتو ډک بنديان ګڼلے.